# خلک له کرونا او فقره مري، د افغانستان حکومت د دوی له کفنه غلا کوي!

څو خبرنيز راپورونه ښيي چې د افغانستان دولتي چارواکو له کرونا سره په مبارزه او له بېوزلو خلکو سره په مرسته کې ميليونونه ډالر غلا کړي دي. خبرنيز راپورونه وايي چې دغو چارواکو د خلکو له وچې ډوډۍ ۸۰۰ ميليونه افغانۍ غلا کړې دي. طبي وسايل او توکي يې د بازار له بيې څو برابره لوړ حسابلي او ميليونونه ډالر يې خپلو جيبو ته اچولي دي. که څه هم د افغانستان فاسد دولت هڅه کوي چې د دې موضوع د څېړنې لپاره د پرلپسې کميسيونو په جوړولو د خلکو احساسات مړه کړي؛ خو دولت هېره کړې چې د فساد غر يې دومره اوچت شوی، چې په څو ګوتو نه پټېږي.

په واقعيت کې په افغانستان کې فساد د شعارونو، ادارو، کميسيونونو او قوانينو د جوړولو پر خلاف ورځ تر بلې ژور کېږي. دولت ادعا کوي چې فساد يې کم کړی دی؛ خو واقعيت دا دی چې فساد کم شوی نه دی، بلکې بڼه يې بدله شوې. دولت د اصلاحاتو او سيستم‌جوړونې په نامه د مفسدينو او له غرب څخه د راغلو کسانو نوی نسل، پر لوړو پوستونو ګومارلی دی او له امله يې فساد ژورې ريښې موندلي دي او څو برابره زيات شوی دی.

فساد د پانګوالي-ډيموکراسي نظامونو نه بېلېدونکې برخه ده او د پای ته رسولو مسئله يې هم د خلکو له ژونده د دغو نظامو د تګر په تولېدو پورې تړلې ده. د څېرو بدلون، کميسيونونه او اداري جوړول او د قوانينو تصويب يوازې پر ټيټ رتبه او تر لاس لاندې کسانو د فساد لارې بندوي؛ خو چارواکي په بې‌غمه زړه فساد کوي او د قانون او عدلي بنسټونو له سترګو پټېږي. نو د هغه نظام په وسيله د فساد له منځه وړل ناشوني دي، چې خپله د اشغال، فساد او درغلۍ له لارې پر خلکو تپل شوی وي او مفسدين د همدغه نظام زېږنده دي.

يوازينۍ لاره چې د فساد جرړې ايستلی او ټولنه د فساد او مافيا له منګولو ژغورلی شي، د يوه عادل اسلامي دولت په اډانه کې د اسلامي ارزښتونو او افکارو پلي کول دي؛ ځکه اسلام متقي او پرهېزګاره رهبران او شخصيتونه روزي، چې هغو ته تر دنيا آخرت ډېر اهميت لري او څوک چې آخرت ته ترجيح ورکړي، فساد نه کوي. هغوی سرچينې او امکانات پر مستحقو کسانو وېشي، ناروغانو ته د خپلو کورنيو د غړو غوندې رسېدنه کوي او حاکميت مسووليت ګڼي، نه د مال ګټلو وسيله.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**